محمد معصوم هوتک ۲۰۱۹/۰۸/۱۲

# یـو تـاریـخي سند

نن مي د خپل خانداني آرشیف او کاغذونو د کتلو پر وخت یو وړوکی کاغذ تر سترګه سو چي زما په خیال د اماني خوځښت د څېړونکو له پاره به په زړه پوري وي. موږ ته معلومه ده چي پر کابل باندي د کلکانی حبیب الله په مشرۍ د یوې لوټماري ډلي د تسلط پر مهال غازي امیر امان الله خان د لوی کندهار د پراخ اولس په ملاتړ د پاچهی د بیا نیولو په نیت د یوه لښکر د جوړولو له پاره تیاری نیاوه. دا لښکر جوړ سو او د ۱۳۰۸ش کال په پسرلي کي ئې مخ پر کابل حرکت وکړ. تر غزني پوري بریالی ورسېد او هورې د بهرنیو او کورنیو فتنه ګرو د دسیسو او فتنو له اسیته د افغان په لاس د افغان وینو تویولو د مخنیوي په غرض ، غازي امیر دې نتیجې ته ورسېد چي د هیواد د ملي ګټو په خاطر تر پاچهی تېر سي او ګټلی میدان پرېږدي.

د دغه لښکر د راغونډولو پر وخت د لوی کندهار ټولو قومونو خپل لیکلی ملاتړ ښرګند کړی وو او په هغو کي د فراه زړه ور او مېړني اولس هم کندهار ته د ملاتړ په نیامت یو لیک را لېږلی وو چي اصل ئې زموږ د کورنۍ په آرشیف کي خوندي وو او اوس زما سره سته. ددې سند تر متن لاندي په سوو لاسلیکونه او مهرونه وه چي ما لیدلي او کتلي ول. اوس ئې دلته په کاناډا کي یوازي د متن برخه راسره سته او د لاسلیکونو پاني ئې له بده مرغه ضایع سوي دي. دا تاریخي سند له نن څخه نوي کاله پخوا د ۱۳۰۸ش کال د ثور پر دېرشمه د یکشنبې په ورځ لیکل سوی دئ او زه ئې د هیواد د خپلواکی د سلمي کالېزي له مبارکیو سره یوځای خپروم او له خدایه غواړم چي په هیواد کي د سولي او آرامی فضا وغوړېږي او د افغانانو وینو تویولو ته د پای ټکی کېښېښوول سي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولـئ

هو

مرحبا ای عزیزان عزیز فرزندانم.

از اجتماع دلپذیر عزیزوطن تان در دل شغام مندنگهار زندگان

تشکر از اظهار تشکر دلچسپ مینمایم.

دلاور باشید که حیات عزیز باشد دعا اخوام فردای ...

باستقلال سرزمین خود اعلیحضرت غازی در دعا ...

منتظریم بار ... نام تان دل ... باشید ...

ثور ۱۳۰۸



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکي په ځیر و لولـئ